**د هغو غلطو راپورنو په اړه باخبره اوسئ چې د روهینګیایي ناورین د اصلي ترهګرو په اړه عامه ذهنیت ګډوډوي**




**خبر**

په دې ورځو کې داسې ګمراه کوونکي خبرونه خپرېږي چې د دوی په خبره د روهینګیا د غمیزې اصلي سرغړونکي اسلامي ترهګرې ډلې دي لکه د اراکان د روهینګیایانو د نجات پوځ (ARSA). په سینګاپور کې د سپټمبر له (۱۲- ۱۴مې) پورې د جنوب ختیځې اسیا ټولنې د ملي پولیسو ۳۷مه غونډه جوړه شوې وه؛ ترڅو د میانمار د راخین ایالت د بشري ناورین په اړه بحث وکړي. په دغه غونډه کې د اندونیزیا د پولیسو لوی درستیز کارنوین خپل میانماري سیال ته له ترهګرۍ سره د مبارزې او بشري حقونو په روزنه کې کې د همکارۍ وړاندیز وکړ.

د سپټمبر د ۱۲مې د نیو سټرایټ ټایمر ورځپاڼې د راپور په اساس ویل شوي ځینې نور هم داسې هڅه کوي څو د روهینګیا د غمیزې په اړه لویو ځواکمنو ترهګرو شبکو ته خبرداری ورکړي، د مثال په توګه د مالېزیا د دفاع وزیر هشام الدین حسین په خپله بیانیه کې د اسلامي دولت ملاتړي د روهینګیایي مسلمانو لړکیو په ځورونې تورن کړي وو. نوموړي خبرداری ورکړی و چې داعش یا اسلامي خلافت ډله په دې هڅه کې ده چې په سیمه کې لوی اډه جوړه کړي، په دې سره به دوی د روان کړکېچن وضیعت لپاره د روهینګیا له هغې مظلومې طبقې څخه ښه استفاده وکړای شي چې په ژوند کې بل انتخاب نه لري.

پیټر موفورډ د یوروشیا ګروپ د سیاسي مشاورینو د جنوب ختیځې اسیا مشر څرګنده کړه چې اندونیزیایي سختدریځي چېرته چې ډېر مسلمانان ژوند کوي اوس په میانمار کې کورني مذهبي تاوتریخوالي ته لمن وهي. د نوموړي په خبره دغو لویو اسلامي سیاسي ډلو تردې وړاندې د جاکارتا د پخواني والي (باسوکي جانجا پورناما) په مقابل کې لویې مظاهرې تنظیم کړې وې؛ خو اوسمهال د روهینګیا په ملاتړ مظاهرې او غونډې تنظیموي، چې د

سپتمبر په اوومه یې په خپله اعتراضي غونډه کې د میانمار د بودایانو پر وړاندې د جهاد اواز پورته کړ. مامفورد د سپتمبر په ۱۳مه سي ان بي سي ته وویل: «د راخین د اوسني کړکېچ په اړه داسې اندېښنې شته چې بنايي اسلامي سختدریځي به له نورو ځایونو څخه جنوب ختیځې اسیا ته د خپلو موخو د پیاوړي کولو لپاره راشي.»

**تبصره:**

د رواني غمیزې په اړه د اسلامي امت قانوني غبرګون ته غلط تعبیر او معنا ورکول، په اراکان کې د شخړو اصلیت ته بل رنګ ورکول او حقیقت پټول دي. له شک پرته په دغو عملونو سره د روهینګیا د غمیزې اصلي ترهګر خلکو ته بل ډول ښودل کېږي. ترهګر څوک دی؟

له شک پرته د میانمار دولت حقیقي ترهګر دی؛ ځکه چې دوی د هېواد په داخل کې د افراطي بودایي ځواکونو په مرسته او د سان سوچي په پټ ملاتړ، په بهر کې د چین دولت، یهودي بنسټونو او همدا راز د پانګوالو ادارو په همغږۍ یوځای دا هڅه کوي چې د راخین ولایت شتمنۍ لوټ کړي. هو، میانمار او د پردې ترشاه له هغوی را چاپېر ټول ځواکونه په دې هڅه کې دي چې هېوادونه استعمار کړي، نو په همدې دلیل  دوی اصلي ترهګر ګڼل کېږي.

په میانمار کې ترهګرۍ ته قانوني بڼه ورکول شوې ده، ځکه چې د ۱۹۸۲م کال د تابعیت په قانون کې روهینګیایان د تابعیت له حقونو څخه بې برخې شوي دي. اوسنی وضعیت په اصل کې د دوی هغه قانوني جواز دی چې اوس یې د خپل نظامي قدرت له لارې پلی کوي. افراطي بودایان د نوموړو لړکیو په اړه د بېګانه توب اوازې خپروي، د کنې او ګونګې ډیموکراسۍ رهبره انګ سان سوچې بیا د همغه قانوني جواز په لړلو سره د عاموژنې او نسلوژنې تګلاره کاروي.

پر دې ټولو ناخوالو سربېره، دا خو لا پرېږده چې اسلامي واکمنان نوموړي هېوادا ته د روان ترورېزم مقابلې ته خپل ځواکونه ولېږي؛ بلکې ډېری مسلمان واکمنان لږ تر لږه دا هم نه شي کولی چې په زړورتیا سره د میانمار حکومت ته د ترهګر لقب ورکړي. په داسې حال کې چې د ستونزو حقیقي جرړه همدا حکومت دی. بل خوا د میانمار رژیم لوړ رتبه غړي په ډېره بې پروایۍ سره هغه جهادي ډلې تورنوي چې له ځان څخه د دفاع په حال کې دي، لکه د اراکان د روهینګیانو د نجات پوځ (ARSA)، چې د بېګناه عوامو د وینو تویولو مخنیوي لپاره د هغوی د ځمکنۍ بشپړتیا او مسلمانانو د وقار لپاره کار کوي. خو په حقیقت کې همدوی بیا د روهینګیا په روان ناروین کې لاس لري، رواني پروژې د هغو ډلو له لارې پلې کوي چې اسلام، جهاد او خلافت یې بدنام کړل لکه داعش او داسې نورې جنایتکارې ډلې.

د جنوب ختیځې اسیا اقتصادي ټولنه هم له اوږدې مودې را په دېخوا د نوموړو حالاتو په وړاندې د دې لپاره غلې ده چې دوی په کورنیو موضوعاتو کې د نه لاسوهنې په اړه ژمنه لري. په مالیزیا او اندونیزیا کې هم مسلمان

واکمنان کمزوري دي، پرته له دې چې ځينې بشري مرستې وکړي يا په موقتي توگه د مهاجرو لپاره کمپونه جوړ کړي، حتی دا هم نه شي کولی چې د روهينگيا مهاجرو ته دايمي تابعيت ورکړي. د ماليزيا مخلص مسلمانان د خپل توان په اندازه همدومره کولی شي چې د ايماني اخلاص په وجه د روهينگيا مهاجر تر يو وخته ژوندي وساتي.

نو د يو هېواد له داسې يو دولتي سيستم څخه به څه تمه ولرو چې په سلگونو ميليونه مسلمانانو ته د دې اجازه ورکوي څو د خپلو خويندو او ورونړو مرسته وکړي؟ د جنوب ختيځې اسيا ټولنې څخه به څه تمه و کولی شو، چې اقتصادي گټو ته پر انسانيت ارزښت ورکوي؟ له داسې دوه مخو نړيوالو قوانينو څخه به څه تمه وکولی شو چې د مسلمانانو په اړه يې تل معيار بدل وي؟ بلاخره له داسې نړيوال نظم څخه به تمه ولرو چې د ميانمار له وحشي رژيم څخه خپل ملاتړ او ساتنې ته دوام ورکوي؟

اوسهال دوی ته دا ډېره اسانه او په زړه پورې ده، چې د ميانمار د بې رحمه رژيم پرځای سېکولران؛ قهرېدلی اسلامي امت ملامت کړي، يا د جنوب ختيځې اسيا ټولنې د نه لاسوهنې د بې گټو ارزښتونو له منځه وړلو پرځای د دوی لپاره دا اسانه او په زړه پورې ده چې اسلامي خوځښتونه وځپي، دا هم ورته ډېره اسانه ده چې د حقيقي ترهگرو پرځای په مسلمانانو د ترهگرۍ ټاپې ولگوي!

اې مخلصو مسلمانانو! موږ بايد په زغرده د روهينگيا د مسلمانانو خويندو او ورونړو غميزې ته د پای ټکی کېږدو. د دې وخت رارسېدلی چې نور په دې سېکولرو واکمنانو باور کولو ته د پای ټکی کېږدو! د الله سبحانه وتعالی دا وينا په ياد ولرئ چې فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لا يَأْلُونَكُمْ خَبَالا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ﴾**

[آل عمران: ۱۱۸]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! له خپلو خلکو پرته له نورو (غير مسلمانانو) سره خپل رازونه مه شريکوئ. هغوی ستاسې د ورکولو لپاره هيڅ فرصت له لاسه نه ورکوي. تاسې ته چې په هر څه زيان اوړي، هغوی خوښي پرې څرگندوي. د دوی د زړه دښمني يې له خولې څرگندېږي او هغه څه چې يې په خپلوسينو کې پټ ساتلي دي، ډېر ستر دي. موږ تاسو ته څرگندې لارښونې کړي دي، که تاسو پوهېږئ.*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**فيکا کومارا**

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی**

**۱۴۳۸هـ.ق، د ذوالحجې ۲۹مه**

۲۰۱۷م، د سپتمبر ۲۰مه چهارشنبه